## مطبوعاتي اعلاميه

## په غزه کې زموږ خلک له منځه وړل کېږي؛ خو خاین حکام یې ننداره کوي

## په اسلامي امت کې مخلص کسان چیرې دي؟

## (ژباړه)

په غزه کې د جګړې په ۳۵مه ورځ، یهودي دولت د غزې ښار منځ کې د روغتون چوک ته ځېرمه، چې هلته څلور روغتونونه؛ الرنتسي، النصر، العیون او رواني روغتون دي، خپل ځواکونه او ټانګونه ودرول. ځواکونو یې دغه مرکزونه په داسې حال کې محاصره کړل چې په ځانګړې توګه د اکتوبر له ۷مې راهیسې په ټوله غزه کې د سختې محاصرې له امله په روغتیایي سکتور کې پرېمانه ستونزې راغلې.

سره له دې چې پر روغتیایي تاسیساتو په تېره بیا روغتونونو بریدونه د نړیوالو کنوانسیونونو او قوانینو له مخې منع دي؛ وحشي یهودي دولت په خپل ظلم او خیانت کې له خپل حده تېر شوي او د غزې د روغتونونو چوک یې په نښه کړی. روغتونونو ته د جینیوا څلورم کنوانسیون د ۱۸مې مادې له مخې ځانګړی خوندیتوب ورکړل شوی. د ملکي روغتونونو په نښه کول چې د ټپیانو، ناروغانو، معیوبینو او ښځو درملنه کوي؛ په هیڅ صورت د منلو نه دي. د دغو تاسیساتو باید تل درناوی وشي او خوندي وساتل شي. د دغه کنوانسیون په ۱۹مه ماده کې دا هم راغلي چې "د ملکي روغتونونو خوندیتوب به هیڅ وخت پای نه مومي." روغتیایي کارکوونکي، وسایط، ناروغان او ټپیان ټول د دې خوندیتوب تر پوښښ لاندې دي.

یهودي دولت په دغو قوانینو او تړونونو عمل ونه کړ او په ټول کبر او غرور سره یې مات کړل. له دوی څخه همدا تمه وه؛ ځکه چې دا د دوی فرهنګ دی او پر همدې اساس پیژندل کېږي. له ناروغانو او ماشومانو سره یې هیڅ ډول خواخوږي نه کوله. دوی هغه روغتونونه محاصره کړل چې په زرګونو ناروغان، روغتیایي کارکوونکي او بې ځایه شوي خلک – چې ان اوبه او خواړه نه ورته رسېږي- پکې دي. په دې سیمه کې ډېری ښوونځي او د استوګنې ودانۍ هم دي.

دا بې رحمه دولت بېلا بېلې پلمې کوي. دوی ادعا کوی چې د عملیاتو موخه یې د «ترهګرو» او د حماس غورځنګ له منځه وړل دي؛ په داسې حال کې چې دا هسې خبرې دي چې د دغه غورځنګ جنګیالي د غزې د ځینو روغتونونو تونلونه د خپلو مشرانو د اډو په توګه کاروي. ښایي له دې سره غواړي خپل جنایتونه توجې

کړي او تر هغو ترونونو لاندې یې راولي چې دوی یې «استثنا» بولي. د دوی قوانین او ترونونه هم سم نه دي؛ ځان له غندنو پرې خلاصولی شي. سره له دې چې د غندنو یا مجازاتو پروا نه لري؛ ځکه د فلسطین د خلکو او ټولو مسلمانانو پر وړاندې جګړه کې یې ټول غرب ملاتړ کوي.

اې اسلامي امته! دا ذلت به تر لکه دوام لري؟ د باطل خلک یو له بل سره مرسته کوي او له اسلام او مسلمانانو سره د مبارزې لپاره سره یو موټی دي او اې د حق خلکو؛ تاسو ولې یو د بل ملاتړ نه کوئ!؟ ملتونه ستاسو پر سر داسې سیالي کوي، لکه ښاروي چې د خوړو پر سر سره جنګېږي. د غزې خلک په داسې حال کې له منځه وړل کیږي؛ چې اسلامي امت یې له لرې ننداره کوي. ایا په لوړ اواز دعاوې او اوږدې چغې تر ټولو ستر کار دی چې دوی د غزې د خلکو لپاره کولی شي!؟ غرب له یهودي دولت سره د الوتکو، پوځیانو او تجهیزاتو مرسته کوي؛ نو اسلامي امت ته پکار ده چې غزې ته یوازې ځینې توکي او درمل واستوي!؟ له دوی څخه زموږ ملاتړ باید همداسې وي!؟ ایا بریا ته همداسې رسېږو!؟

په غزه کې د حکومت د رسنیو دفتر د نومبر په ۱۰مه اعلان وکړ چې یهودي دولت د غزې ترانګه کې شاوخوا ۳۲،۰۰۰ ټنه چاودیدونکي توکي او تر ۱۳،۰۰۰ زیات بمونه غورځولي؛ دا په اوسط ډول په هر کیلو متر مربع کې ۸۷ ټنه چاودیدونکي توکي دي. دغه دفتر زیاتوي چې په غزه کې د چاپو او بمباریو له امله تر ۵۰ سلنه ډېر کورونه ویجاړ شوي او ۴۰ زره نور کورونه په بشپړه توګه ویجاړ شوي.

اې د اسلامي امت لښکرو! هغه څه مو نه خپه کوي، چې دا مجرمین یې ستاسو د امت پر بچیانو کوي!؟ دا مو په رګونو کې وینه په جوش نه راولي!؟ نه مو پاروي چې د ژغورنې لپاره یې راووځئ، مرسته ورسره وکړئ او د یهودو دا وحشیانه تیری پر شا وتمبوئ!؟ ایا د دې جرات نه لرئ چې د امت د ماشومانو او ښځو پر وړاندې د روانې ټولوژنې مخه ونیسئ!؟

د روغتیا وزارت د اعلان له مخې د غزې په ترانګه کې د یهودو د تېرې له پیل راهیسې ۱۸ روغتونونه له خدمتونو وړاندې کولو لوېدلي؛ دوی زیاته کړې چې «یهودي دولت د روغتونونو او طبي کارکوونکو پر وړاندې یو پیچلي جرم ترسره کوي، چې د تیلو او روغتیاي توکو له بندیز څخه پیل شوی او نن دا دي مخامخ په مرمیو او بمباریو روغتونونه په نښه کوي». نو د غزې او فلسطین پر معصومو او ناروغو ماشومانو او خلکو چې داسې حالت روان دی؛ مسلمان حکام چیرې دي!؟ د دوی له مخې نقابونه غورځول شوي؛ دښمن ته د دوی وفاداري او تابعیت او د اړیکو عادي کول په ډاګه شوي. دوی له دښمن سره د خپل امت پر وړاندې ودرېدل او د څوکیو او تختونو په بدل کې یې ځانونه خرڅ کړل. اې اسلامي امته، له دغو خلکو څه تمه لرئ؟ ایا دوی به د الاقصی د ازادولو او د غزې او فلسطین د خلکو د ملاتړ لپاره پوځونه بسیج کړي!؟

اې اسلامي امته: تر څو به چوپ وئ؟ زموږ ورونه او خویندې تباه کیږي، حکام یې نندارہ کوي او لښکرې مو په پوستو کې بندې دي! ایا دا یې وخت نه دی چې تختونه چپه او لښکرې مو بسیج کړئ!؟ اې اسلامي امته: واک ستاسو په لاس کې دی، نو د الله سبحانه وتعالی د دین د ملاتړ لپاره انقلاب رامنځته کړئ او د خاینینو پر ځای صادقان وټاکئ، چې په سمه لار مو روان کړي او د جهالت له تیارو څخه مو را وباسي. د سیکولر پانګوال نظام پر ځای مو د رب د نظام رڼا ته راوباسي چې ستاسو له عقیدې څخه راوتلی.

موږ د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخه د دغه امت له هر مخلص فرد څخه غوښتنه کوو چې د واک او ځواک پر خاوندانو غږ وکړي چې د دغه جنایتکار دولت له لوري د ترسره شوو ټولوژنو د مخنیوي لپاره بیړنی اقدام او کار وکړي؛ د خپل امت له خلکو سره کار وکړي چې د دغه سیکولر نظام جرړې وباسي او د الله سبحانه و تعالی د احکامو له مخې اسلامي ژوند بیا پیل کړي چې الله سبحانه و تعالی د نړۍ لپاره د رحمت په توګه رالیږلي. الله سبحانه وتعالی ژمنه کړې چې د هر هغه چا ملاتړ کوي (نصرت ورکوي) چې د هغه سبحانه وتعالی ملاتړ کوي؛ نو د الله سبحانه وتعالی لپاره دا کار وکړئ.

**[إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الأَشْهَادُ] [غافر: ٥١]**

**ژباړه:** «باور ولرئ چې موږ د خپلو پیغمبرانو او مومنانو مرسته هرو مرو د دې دنیا په ژوند کې هم کوو او په هغه ورځ به یې هم وکړو چې کله شاهدان ولاړ وي.»

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخه**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربیع الثاني ۲۹مه**

**۲۰۲۳م کال، د نومبر ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۵/۰۱۴**

**ژباړن: محمد حامد**